تقریظ پروفیسورعبدالخالق رشید ۲۰۱۳ /۷/۸

" سلطنت پشتونها درهند"
پر دغه ژوره تاریخي اثر یوه لنډه لیکنه

د افغانستان یوه محترم وزیر پرهغه مهال چي په هند کي سفیرو تل له ماسر ه په یولړ جالبو موضوعاتوهغه چي دده په تحت الشعورکي یي له اوږدي مودي راپه دیخوا په هرنیت ځای نیولی و، باندي بحثونه کول ، یومهال یی یوه پوښتنه له ما داوه چي :

دهند وستان پښتانه ولي د افغانستان دهغو په اندول تعلیمیافته ، فرهنګپالي اوپه تمدني آسانتیاوو سمبال پښتانه یا افغانان ول ؟ زمالنډ او آنی ځواب ډاکترصاحب دهغه ددغي پوښتني په اړه داوچي :

په دغه اړه په علمي لحاظ باید دری لاملونه او توپیرونه په پام کي ونیسو ، لومړی داچي دهندوستان پښتانه په یوه داسي چاپیریال کي اوسیدل چي له پخوا څخه هغه دپښتنواو نورو لپاره د پوهي او زده کړي اویا په بله وینا دهغه تمدن مرکز و چي دهغو په جوړولو کي ددوی برخه اخیستنه هم انکارنه کیدونکي ده ، په تیره بیا په اسلامی دوره کي خو دعلماوو او پوهانو په وینا پرهندوستان باندي دواکمنی یو لامل دتوري په څنګ کي زده کړه اوپوهه اودهغي روحاني اغیزهم خورا مهم و ، پښتانه هم ناچارول چی باید ځان له دغه چا پیریال سره پردغو دری واړو توکونو سمبال کړي ، څودیوه برلاسي اوواکمن قوت په توګه ددي جوګه شي چي دغه هیواد اداره کړای شي .ځکه نو دوی (پښتانه) که دهندوستان په هره برخه کي اوسیدل او یایی واک پري چلاوه دغه ټکي ته په دقیقه توګه ځیر او متوجه ول ، همداوه چي غلجي ، لودي ، سوری ، اوپه لسګونو نورواړه اولوی واکمنانان نه یوازي د واکمنی څرګندوی وو، بلکي په خپل وخت کي دعلومواو فنونو په زده کړه کي هم ماهرین وو اوهغه یي په غورسره لوستی ول اودوخت رسمی ژبي اودهغو فرهنګی اوادبی زیرمي په تمامه مانا په ښه توګه پیژندلي ، دوی په فرهنګی لحاظ دومره نومیالی ول چي هنري شهکارونه یی تراوسه پوري دهندوستان په معماری اوهنر پالنه کي دنړیوالو پاملرنه ځانته ورجلبوي او ددغه هیواد په هنري عجایباتو کي شمیرل کیږي . خوشال خان خټک دهمدغه اصل پربنست نامتو اثر (دستارنامه) ولیکه او په هغي کي یی دیوه واکمن لپاره اړین توکونه په شل هنرونو او شلو خصلتونو کي په هغه شان لکه چي دهندنومیالي عالم کوتلیه له نن څخه دوه نیم زره کاله مخکي په خپل اثر (آرت شاستر) کي هم په نښه کړي وو.

لنډه داچي هرپښتون واکمن دقلم او کتاب هم سالار و او یی هم دځان او خپلي اداري په ګټه دواړه په خپله کارولای شول .

دویمه خبره چي د هند دنیمي وچي د پښتنو په اوچته شعوری وده کي دپاملرني وړوه اوده هغه د دوی اقتصادي اومالی ځواک و، دوی پراخي پرګني اوجاګیرونه درلودل ، دهندوستان دخزانو په اندول یي خزاني درلودي اودغه هیواد یي په دغه خزانو باندي آبادکړی و . ماناداچي د دوی لاس بل چا ته اوږد نه و ، دسیاسي اوفرهنګی واک اوپوهي ترڅنګ ځان په یوه پوره اقتصادي ځواک باندي هم دایشیا په زړه کي عیارکړی و .

دریم ټکي په دغه اړه داو چي دوی دهند دنیمي وچي سیاسي واک هم په خپل لاس کي درلود اودغه هیواد یي دخپل سیاسي درایت اولیاقت له مخي اداره کاوه ما نا داچي ددغه هیواد واک یی له بل چا سره نه ویشه او دخپل حکومت واګی یي په خپل لاس کي ول اوپه ټول هندوستان کي یي دخپلو قومونو مشرانو په دندو ګمارلي ول . داچي دهندوستان پښتنو قلم ، اقتصاد او سیاست دری واړه پرخپل لاس کي درلودل همدا لامل و چي مغلو او په راوروسته کي انګریزانو هم ددوی دغه تګلاره دهند د اداري لپا ره په خپل وخت کي وڅارله او په دغه شان یی هندوستان په سوونو کلونه په خپلو منګولوکي وساته او خپل واک یي پري وچلاوه ...

خو په افغانستان کي دپښتنو یا افغانانو حال په تیره بیا په دوو دریو پیړیو کي دپورتنو دریو مهمو ټکو برعکس و ، افغانانو پیاوړي اقتصادی سرچینې او منظم اقتصاد یی نه درلود چي تراوسه یي هم نه لري ، سیاست یی تش په نامه په لاس کي چي تراوسه هم دغه ډرامه دلته روانه ده او نه یي دلته یی دیوه با ثباته نظام په جوړولو باندي دکورنیو او بهرنیو عواملو له امله بریالیتوب ترلاسه کړ، بده لا داچي قلم یی هم په خپل لاس کي نه و اونه تراوسه دي ، هغه هم نورو ورته چلولی او هرڅه چي نورو ورته لیکلي او یایي په دوی پسي لیکلي هغه هم د دوی له ارادي دباندي خبره وه . ځکه نودغه اوهغه پښتانه ، دهغوی اودغوشعوري او تمدني کچي او وړتیا په یوه منطقی مسیر باندي وده ونه کړه

افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید magalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد ازغور کامل بما ارسال بدارید.

اونه یی تراوسه ځان دغه انډول ته رسولی دی . داچې په یوه چاپیریال کې چې دیوه ملت اوخلکو لپاره د ودې عینې او ذهنې شرایط برابرنه وي ، هغوی ان دخپلو مقدساتو په رڼاکې هم سم عمل نه شی کولای ځکه نودغه ګرده تفاوتونه په څرګنده ددې لامل شوی چې باید دهندوستان اوافغانستان دپښتنو په ژوندکې دڅرګند توپیردرز اولامل رامنځ ته شي.

ددغه لوی اوتاریخی درس په رڼاکې له نیکمرغه دادی موږ ته زموږ نامتو لیکوال او مؤرخ درانه سیستانی صاحب دخپلو پرله پسې علمي څېړنو په لړکې له مودو وروسته دفارسي ژبې نومیالي پښتانه مورخ حضرت نعمت اله هروي ، چاچې دمغلي دورې دنامتو پښتانه سردار خان جهان لودی په امریی مخزن الافغانی غوندې مهم تاریخی اثر په فارسی ژبه (هغه ژبه چې ترخپلو ویونکو یی د ودې او پالنی ویاړ په افغانانو یا پټانانو پورې اړه لري) زموږ په واک کې راکړ، ددغه درانه علمي تحقیق په ترڅ کې مو ږ دغه لاندې فصلونه لوستلای شو :

لومړی فصل : ذکرنام افغان وافغانستان درمنابع تاریخی

په دغه برخه محترم سیستاني صاحب دخورا مهمو مآخذونو په رڼاکې په موثقه او مستنده توګه پرهغو منابعو او سرچینو باندې خبرې کړې ، دهغو په ترڅ کې چې دافغان نوم او لغت ، ددغه قام شته والی او جغرافیایی موقعیت په ډاګه شوی دی . په دغه برخه کې سیستانی صاحب دهغو ناروغو ذهنی ګرو لیکوالو ناروغو پوښتنو ته هم دمعتبرو اسنادو په لاسوند سره داسې ځواب ویلی چې زه فکرکوم ، ددغه څېړکې علمي درنښت هرهیواد پال افغان ته دافکرورکوي چې دافغانانو په اړه د ذهني ګرو نظریات دعلمي وړتیا په بربنسټ نه دي لیکل شوي بلکی داهغه څه دي چې زموږ دهیواد دملی او جغرافیایی شته والی د وراني په موخه زموږ دتاریخی افغانستان د دښمنانو په نغوته او اشاره ترسره شوي او لاهم دوام لري. لکه چې ددغه اثر دلومړي فصل په یوه برخه کې لولو :

« درهمینجا باید خاطر نشان سازم که نام افغانستان چه از ۱۷٤۷ گذاشته شده باشد و چه از ۱۸۰۱، و چه از۱۸۳۹به بعد رسمیت یافته باشد، نکتهٔ بسیار مهم اینست که این نام امروزه در جهان و نقشهٔ دنیا و نزد مجامع بین المللی یک نام پذیرفته شده و مسجل شده است و به آدرس این نام و مردمان آن صدها و هزاران مقاله و کتاب و نشریه نوشته و چاپ شده است. تلاش درجهت جاگزینی نام دیگری برای این کشور، نه تنها دردی را دوا نمیکند، بلکه بر مشکلات دولت و ملت می افزاید، افتراق قومی را دامن میزند و تفاهم ملی را خدشه دار میسازد.»

په دغه فصل کې دافغان نوم تراسلام پخوا او راوروسته په بیلابیلو عربی ، هند ي او فارسی او نورومنابعو کې څېړل شوي چې په علمي اوتحقیقاتی لحاظ بی له شکه لوړ ارزول کیدای شی .

دویم فصل : جغرافیای بشری ومشخصات اجتماعی قبایل

په دغه څېړکې د پښتنو په جغرافیایی موقعیت او استوګنځي باندې اوږده څېړنه شوې ، دلته ترهرڅه مهمه خبره چې سیستانی صاحب یی دخپلې څېړنې په اړه په ډاګه کوي داده چې افغانان – پښتانه یولرغونی آسیایی او آریایی قام دی چې له نژدې څلورو زروکلونو راپه دیخوا پردغه ټاکلې جغرافیایی چاپیریال کې اوسیدلي او دلته یی دخپل شته اوټاکلي هویت ساتنی په لامل ځان ساتلی دی اودخپل ژوند او اعتقاداتو ترټولو مهم میراث یې (ویدي سندرې) دي چې دلته ایجادکړی اوله دغه ځایه (دهندوکش له جنوب) څخه یې دګنګا اویمنا تروادیو پورې رسولې دي . په نړۍ کې ډیرلږ قومونه داسې دي چې دوی د خپل استوګنځي او خپل هویت د دومره اوږدې مودې لپاره ساتلی وي اویادي هلته داوږدې مودې لپاره دبیلابیلوعواملو په لامل پاتې شوې وي ، خوپښتنو دا کارکړی ، همداده چې معتبرتاریخی اوجغرافیایی اسناد دسیستانی صاحب دڅېړني پربنسټ دغه ټکی په ډاګه کوي چې پښتنو په اوسني جغرافیایی چاپیرل کې اوږده موده تیره کړی او ان که زوګیرو ځواکونو له کومې خوا یرغل هم ورباندې کړی ، دهغوی په وړاندې یا مقاومت کړی ، یایی هغوی په ځان کې حل کړي خوخپل ټاټوبی اودغه اوسنی جغرافیایی فضایی دهغوی د ظلمونو او زورزیاتیو په مقابل کی هم له لاسه نه ده ورکړی .

سیستانی صاحب په دغه فصل کې دپښتنو په کلتوري اوفرهنګی هستونواو ارزښتونو لکه ټولنیزو جوړښتونو، قبیلوی نرخونو ، جرګو، ماسو او حماسو ، ادبیاتو او نورو باندې هم اوږدی خبرې کړې دي.لکه چې دجرګې دانساني اهمیت په اړه لیکي :

« جرگه متشکل از خانان، ملکان و بزرگان وملایان قبایل است. حتی اشخاص با تجربه از طبقات پائین تر نیز درجرگه شرکت کرده میتوانند. تمام محاکمات جزائی در برابر «جرگه» انجام میگیرد. قضایای جزئی در جرگهٔ قریه(یا کلی جرگه) یا در محل حادثه حل وفصل میشود. اما فیصله رخداد های مهمتر در اولسهای منظم، برحسب اهمیت به جرگهٔ خانها وبزرگان قوم ارجاع میشود، اما بخشهای غیر تابع مستقلاً عمل میکنند.جرگه را معمولاً یک رئیس محلی تشکیل میدهد، اما در بیشتر قبایل هرکس که عضوجرگه باشد، میتواند جرگه را تشکیل بدهد. کسانی که

افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد ازغور کامل بما ارسال بدارید.

درجرگه حاضر نگردند مکلف به پرداخت جریمه میگردند. پس از گردهمائی اعضا، رئیس جرگه پس از دعای مختصری توسط ملا ویا در صورت عدم حضور ملا،خود بیتی را به زبان پشتو میخواند که مفهوم آن چنین است:« همه امور از جانب خداست، ولی برای بنده هم اجازه فکر ومشورت داده است.»

دریم فصل : سلطنت پشتونهای لودی درهند (۱٤۱۷- ۱۵۲٦م)

دغه فصل دلودي واکمنۍ په اړه څېړنې ته وقف شوې دی ، په دغه برخه کې ددغې کورنۍ پرتاریخي لرلیدو او همداسی په هند کې دهغې دنامتو شاهانو لکه اعلحضرت سلطان بهلول لودی ، سلطان سکندر لودی ، سلطان ابراهیم لودي پراوږدي مودې واکمنۍ ، دهغو ي پرعدالت پالني ، قوانینو او دهند په پراخو سیمو باندې دهغوی واکمن کیدل اوترنیمی پیړۍ زیاته موده دهند پرواکمني پاتیدل څېړل شوي دي ، په هند کې دلودیانو واکمني دهند دتاریخ یو پراخ سیاسي اوفرهنګی څپرکي جوړوي ، کله چې اوس هم سړی ددغې کورنې په عصرکې جوړه شوې اوایجاد شوې معماري اوهنرونه اودهغو ډولونه دټول هند په اوږدو او لنډوکي ګوري ، سړی له شکه پرته ګوته په غاښ کوي ، د ډهلی په ښارکی د ګرین پارک ، لودي ګاردن اونورې تاریخي مانۍ تراوسه هم ددغه ښار په زړه کی دپټان ډول معمارۍ له عجایبو او شهکاریو څخه یادیږي چې ددغه اثر په بیلابیلو برخوکي یی انځورونه او بیلګی چې سیستاني صاحب ځای پرځای کړې دي لیدای شئ . دغه دوره دهند په تاریخ کې په هراړخیزه توګه دومره مهمه دوره ده چې کله هم په علمي اوفرهنګی اوملي لحاظ دهند له تاریخه پریوه خوا نه شي پاتې کیدای . ځکه نو سیستانی صاحب هم علمي کتنه پرې کړې ، اودغه کورنۍ یې دهغې د واکمنانو دتاریخی تسلسل په ترڅ کې څېړلې ده ، دی ددغه اثر په یوه برخه کې دسلطان بهلول په اړه لیکي :

« هیمنطور سلطان بهلول در دربار عام نیز برتخت نمی نشست و بر روی قالیچه می نشست و به امیری که فرمان ها را مینوشت "مسندعالی" خطاب میکرد و سعی مینمود تا زیر دستانش از وی ناراض نگردند و اگر احیاناً امیریا صاحب منصبی از وی آزرده خاطر میگردید، به دیدنش میرفت واو را در آغوش میگرفت وبعد شمشیرخود را از کمر باز مینمود و پیش روی شخص آزرده میگذاشت و میگفت :اگرسلطان ازکار من ناراض است، این مقام را ازمن بگیرد وبه کس دیگری بدهد و به من منصبی فراخورحال من ببخشد. طبعاً شخص آزرده از این برخورد سلطان منفعل شده از دل وجان به وی گرویده میشد. سلطان بهلول لودی با تمام صاحب منصبان وافراد اردو که بیشتراز اقوام پشتون بودند، برادرانه برخورد مینمود و اگر کسی مریض میشد خود به احوال پرسی وی میرفت. در موقع جنگ وقتی با دشمن روبرو میشد، از اسپ فرود می آمد، دو رکعت نماز ادا میکرد و بعد شمشیر از نیام میکشید وهرگز دیده نشده که دشمن در جنگ براو غالب آمده باشد.»

همدارنګه د فرهنګ پالي سلطان سکندر په اړه لیکي :

« سلطان سکندر خودش شاعر در زبان فارسی بود. ودرشعرفارسی « گلرخ » تخلص میکرد. سلطان سکندر زبان «فارسی» را برابر با زبان مادری خود « پښتو» دوست داشت و با علاقمندی در ترویج آن کوشا بود .

سلطان سکندر لودی بنابه داشتن ذوق بلندش گفته بود :ازینکه من پښتونم ، فارسی زبان دیگرکشورم را در هند رایج کردم واگر من غیر پښتون می بودم در آنصورت زبان پښتو را رایج میکردم .

متاسفانه در تاریخنامه ها از خدمات سلطان سکندر لودی بخصوص در بخش ترویج زبان وفرهنگ فارسی کمتر یاد شده است . این خدمت بزرگ سلطان سکندر لودی به زبان فارسی که بعد ها سبب ایجاد لغت نامه ها ، به میان آمدن شعرای بزرگ پارسی زبان درهند و چاپ ونشر و کتب فراوان بزبان فارسی در آن کشور شد، و ازبرکت آن امروزه ایران و افغانستان صاحب کتابهای زیاد فرهنگ لغات هستند.»

په دغه څپرکي کې سیستاني صاحب د لودیانو پراداره ، مالیاتي سیستم ، قوانینواو فرهنګی بر یاوو باندې علمي کتنه اومفصل معلومات وړاندې کړې دي .

څلورم فصل : شیرشاه سوری واعادهٔ عظمت افغانها درهند

دغه فصل ټول ټال سوري شیرشاه ته وقف شوی دي ، دسوري شیرشاه ، پر ژوند ، افغانیت ، شخصیت ، کارنامو ، اصلاحاتو ، قوانینو ، اداری سیستم ، مالیاتو ، عامه خدمتونو ، دفاعی مهارتونو ، تجارت اونورو ځانګړنو باندې مکمل معلومات راغلي اوددغی دوري په فرهنګی ، روحاني او سیاسی او اقتصادي نظام باندې یې جالبه اومستنده څېړنه کړې ده . داچې سوري واکمني دهند وستان پرسیاسی ، دفاعی او اقتصادی سستم باندې دروند اغیز درلود ، له همدې امله و چې ترننه هم دهندوستان اوسنی دولتی سستم او اداره پرهماغه جوړښت ولاړپاتې شوي دی ، زما ښه په یاد دي چې دهند لومړي وزیر اتل بیهاری واچپایی دهندوستان د خپلواکی پرمهال له لال قلعې څخه دنویمې لسیزو په پای کې دخپلې وینا په ترڅ کې دهند ملت په خطاب کې وویل :

افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد ازغور کامل بما ارسال بدارید.

« هندوستان نن سبا په اقتصادی برخه کې زیات پرمختګ کړی ، خو یوه خبره باید له یاده ونه باسو او هغه داچې هغه دولتی تګلاره او اقتصادي پرګرامونه چې شیرشاه سوری دهندوستان لپاره پرخپل مهال ترلاس لاندې نیولې وه ،هغه موږ تراوسه هم نه ده بشپړکړې ... »

داخبره که واچپایی په اوسني عصرکې په هرمطلب سره کړې وي ، یوتاریخی واقعیت دی چې موږ کولای شو ، دهغې تشریح دسیستانی صاحب داثرپه دغه څپرکې کې په ښه مفصله توګه ولولو لکه چې په یوه برخه کې راغلي :

« اولین تغییری که شیرشاه درعواید به جود آورد و برقدرت ونفوذ اعیان موظف در سرزمین های مختلف مؤثرواقع شد، وادار کردن همه به پیروی از یک سیستم واحد در جمع آوری مالیات بود. این سیستم عبارت از جمع آوری عواید براساس اندازه گیری در همه مناطق بود. علت این تغییر دراحساسات نیک وبشردوستانه شیرشاه در برابر دهقانان نهفته بود.شیرشاه دهقانان را ستون فقرات ومنبع بزرگ قدرت وشگوفائی امپراتوری خویش میدانست. هیچکس،اعم از اعیان بزرگ وخدمتگاران کوچک را یارای زورگوئی به زارعین ومزارع شان نبود.اعیان مکلف بودند تادر جریان لشکرکشی نیز از مزارع اطراف کمپ های شان مراقبت نمایند وهرگاه شخصی برای استفاده حیوانات خود به مزارع ضررمیرساند ، مورد توبیخ وسرزنش در محضرعام قرارمیگرفت.»

پنځم فصل : جنبشهای قبایل پشتون در مصب رودکابل برضد سلاطین مغولی هند(۱۵۵٦-۱٦۹۰م)

سیستانی صاحب دلته دافغانستان دتاریخ ډیرمهم او حساس پړاو ثبت کړی دی ، پردغه مهال افغانستان له دریوشمال ، لویدیز، جنوب او ختیز خواوو د باندنیو یرغلګرو واکمنیو په منګولو کې راښکیل و ، په دې مانا چې دریو لویو ځواکونو ، شیبانیا نو له شماله ، فارسیانو له لویدیزه او مغلو له جنوب او ختیزه ددغې خاوری پرحریم باندې یرغل کړی و، په دغه تجزیوي حالت کې هم افغانانو دخپلې خاورې ، جغرافیې اوملی شته والي څخه د دفاع په موخه ددغو دریو ځواکونو په وړاندې مقاومت راپیل کړ، دغو باندنیو واکمنیو سره له دې چې یوشمیرسیمې لکه کندهار اوکابل یې په خپلو واکمنیو کې راوستې خو دساتلو اودفاع کاریی خورا ورته ګران و . دوی داوږدې مودې لپاره ونه شوای کولای چې ددغو دوو ښارونو له دیوالونو دباندې ځان پرنورو سیمو باندې واکمن محسوس کړي . همداوه چې په دغه سخت حالت کې دوه غورځنګونه په دغه خاوره (افغانستان په پراخ مفهوم) کې ددغه هیواد دملي خپلواکی ، ملی حاکمیت اوملی مقاومت داستازو په توګه په خورا طبعیی اوقانونمند ډول را وتوکیدل او ددوی پرضد یې سخت سرې ملي مبارزه او مقابله راپیل کړه .

موږچې کله دخپل هیواد دتاریخي اوسیاسي موجودیت دکرونولوژۍ لړۍ لیکواویا یی تدریس کوو ، دهغې په لړکې ددغو دوو ملی غورخنګونو شته والی زموږ دملي شته والي څرګندوی دی ، سیستانی صاحب په دغه سلسله کې ددغو دوو غورخنګو په تاریخی رسالت ، سیاسی اهمیت او فرهنګی دقت باندې رڼااچولې اودهغو اهمیت یی دافغانستان اوسیمی په تاریخ کې دمغلي لویی امپراتورۍ په مقابل تشریح کړی اودهغو پر سیاسی اوملي بریاوو باندې یی چې په راوروسته کې زموږ په برخه شوې خپل تحقیقات متمرکزکړي دي ، ددغه فصل له مخې موږ دحضرت بایزید روښان اوحضرت خوشال خټک په څو اړخیزو هڅو او مبارزو باندې په دقیقه توګه ډیرښه پوهیدای شو لکه چې د روښاني غورځنګ په برخه کې لیکي :

« محققان خاطر نشان ساخته اند که نهضت روشانی، در واقع حلقه مهم از سلسله مبارزات آزادی خواهی افغانان بعد از سقوط دولت لودی و سوری افغان در هند است. از آنجایی که با یزید روشان شخصاً رئیس قبیله‌ای نبود، لذا برای رسیدن به این آرمان بزرگ ملی، از تصوف و عرفان بحیث یک سلاح برنده و قاطع کار گرفت و بر ضد استیلاگران خارجی (کورگانی هند) مردم را بمبارزه برانگیخت.

در قرون وسطی، مخالفت با استبداد مسلط، غالباً در سلک‌های عرفانی و در لباس دین و مذهب و«میستی سیزم» (باطنیت) وتصوف بروز میکرد. بنابرین نهضت روشانی اگر از لحاظ شکل، عرفانی و تصوفی بود، مگر از لحاظ محتوی و مضمون یک نهضت آزادی‌خواهی و رهائی بخش بود، که قبایل ساکن درمصب رودکابل را بر ضد قدرت های استبدادی وقت وبرعلیه دستگاه حاکمه فیودالی به مبارزه خستگی ناپذیر ۸۰ ساله در جنوب هندوکش از غزنه تا پشاور بسیج کرد. »

دسیستاني صاحب دڅیړني پربنسټ دغه مبارزه د بایزید روښان دملي مبارزې په پیلامې سره نوره هم اوږده او لړۍ یې په یوه بل نسل باندې ولګیده چې دهغې په سرکې سترملي مبارز اومشرخوشال خټک اودهغه نورملی ملګري ، دریاخان او ایمل خان ول ، دوی دپښتنو دمقاومت دلړۍ هغه بهیرچې حضرت پیردستګیر بایزید روښان پیل کړی و په خورا درایت سره تردریم نسل پورې چې په سرکې ملي مشر میرویس خان و ورسوله ، اوس زموږ په تاریخ کی

افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد ازغور کامل بما ارسال بدارید.

دخوشال خان خټک مبارزه دیوې ملي مبارزې بیلګه ده چې زموږ دملي تاریخ یو حساس اومهم څپرکي پرهغي پورې تړلی دی ، چې دغه ټولې خبرې موږ د دغه تاریخي اثر په دغه فصل کي په ټولو جزیاتوسره لوستلای شو لکه :

« در میان رجال وشخصیت های نامدارسیاسی - فرهنگی پشتون، خوشحال خان خټک (۱۶۱۳-۱۶۹۱م) هم از لحاظ شعر و ادب و هم از جهت قلم وشمشیر ، رهبری بزرگ و سیاستمداری شجاع و پر شهامت بود. اوسردار وبزرگ قوم خټک و پیشتاز قیام ضد پادشاهی اورنگ زیب بشمار میرود.

خوشحالخان خټک، درعین حال که مرد سیاست وشمشیر بود، شاعری انقلابی و توانا نیز بود و برای و حدت افغانها وتشویق آنها برای حصول آزادی و ترک مناصب حکومت مغول با زبان قلم اشعار آبداری نوشته و به هرپیش آمد اجتماعی وفردی بازبان شعر و قلم پاسخ گفته وبروشنی تمام واقعیات زندگی عصر و محیط خود را در شعر منعکس ساخته است .»

شپږم فصل : فشارهای انگلیس برامیرعبدالرحمن خان بخاطرامضای معاهده دیورند

سیستاني صاحب په دغه فصل کي ددیورند دکرښې لرلید او هغه تاریخی حقایق چې په دغه اړه دده لاس ته ورغلي له هغو هڅو سره یوځای چې هغه دامیرعبدالرحمان خان په عصراوکاروابیو پورې اړه لری له پوره انتقادي لرلید او ارزوني سره یوځای زموږ په واک کي راکړي دي او ددغي نامنلي کرښې په اړه یی خپل تاریخی تحلیل دیوې غمیزې او یوې تاریخی تیروتنې په توګه چې دهغې په ایستلوکي یوازې د استعمار وندې او زور زیاتی په پام کي و کښلی دی ، زما لپاره بې شکه خوکیدای شي دهرلوستونکي لپاره دغه فصل په دي اثرکي ډیردپاملرني وړ وي په دې چې زموږ یو زیات شمیرلیکوالو په دغه اړه خپل نظریات له خپلو ذهني تمایلاتو سره دتاریخی حقایق او ارزونو پرخلاف یو پربل پسې کتارکړي اولیکلي یی دي ، دوی پرته له دي چې تاریخی حقایق او دوخت عینی شرایط په پام کي ونیسي ددغې کرښې ټول مسوولیت یوازې په یوه کس چې هغه امیرعبدالرحمان دی وراچوي اونوره مساله همداسې لاینحله اوبی نتیجې لوستونکي ته په مجمله توګه پریږدي ، ځکه چې دوی دوې ستونزې لري ، یوداچې علمي څیړنه نه کوي ، اوبله داچې خپلې ځاني عقدې په دغه بر خه کي دعلمي حقایقو پرځای پرلوستونکو ورزغمي ، همداده چې دم ګړی موږ دومره تش په نامه مورخین په هیواد کي دننه او باندې لرو چې په یوه اکاډمی کي هم نه ځاییږي ، خو چې دلیکني کیفیت ته یی سړی ګوري دسړي خندا ورته راځی ځکه چې دوی تاریخ پرمیتود نه ، بلکي په افسانوي اوغیرعلمي مفهوم سره پرحقایقو نه بلکي دحقایقو پرځنګ کي په اټکلونو باندې لیکي

سیستانی صاحب په دغه اثرکي له تاریخی تسلسل سره دا نوښت کړی چې په خپل اثرکي یی دغه فصل ته دیوه ځانګړي تیز په توګه ځای موندلی دی هغه دقضیی دواړه اړخه څیړلي ، ترڅوبی پایله په یوه ټکي باندې متمرکزه کړي اوهغه دا چې داکار که هرچا کړي ، دا دهرډول انساني قوانینو خلاف عمل دی باید چې په دغه اړه نړیوال او دبشري حقونو مدافعان پرافغانانو باندې دغه تپل شوې تراژیدي پای ته ورسوی او دغه برخه چې له یوه واحد ملت څخه بیله شوې بیرته لکه د جرمني په شان سره یواو دیوه واحد او خپلواک افغانستان برخه کړي . لکه چې ددغه فصل په یوه برخه کي لولو :

« انگلیس ها میخواستند تا به هروسیله ای ممکن ،چه از راه توطئه چینی وچه از طریق فشارهای نظامی، امیر عبدالرحمن خان را مجبور سازند تا مناطق قبایلی «یاغیستان» را بطور دایم از افغانستان جدا سازند و آنرا بحیث دومین سپرامنیتی هند در برابر حملهٔ احتمالی روسیه از طریق افغانستان زیر سیطرهٔ خود قرار دهند وبا همین نیت وهدف دست به توطئه چینی وسبوتاژ میزدند. بنابرین روابط امیر با حکومت هند برتانوی روز بروز خراب ترشده رفت، زیرا انگلیسها ، اوضاع را به نفع خود در طول سرحدات افغانستان مغشوش ساخته و باعث خون ریزیهای بسیاری بین مردم سرحد گردیدند تا آنکه در سال ۱۸۹۲ به قطع روابط انجامید»

پردي برسیره په دغه فصل کي دبیلابیلو کورنیواوبهرنیو پوهانواو سیاستوالو نظریات هم د دیورند دکرښې په باب راوړل شوي دي . مانا داچې په دغه فصل کي موږ کولای شو چې دیورند کرښه ، دهغې تاریخی لرلید ، دخلکو عکس العملونه او تاریخی شواهد ، اوسنی حالت ، د پاکستان دجوړیدو په درشل او ترننه په دغه اړه رواني هڅې ان دسړکال دګوشتي دشهید قاسم تر قربانی پورې حالات له ټولو جزیاتو سره دیوه قانع کونکی اوعلمي تحلیل په رڼاکي ولولو .

اووم فصل : اوضاع سیاسی - اجتماعی درمناطق قبایلی بعد از تحمیل خط دیورند

دایوجالب او دپاملرني وړ فصل دی ، ډیرې داسې خبرې او علمي معلومات چې زیات اوسني کورني او بهرني پوهان ، سیاستوال او څیړونکي دهغو لوستلو ته اړتیا لري دلته په خورا دقت سره لوستلای شو، په تیره بیاهغوی چې په فارسي ژبه پوهیږي کولای شي ، هغه حقایق په مستقیمه توګه د دغو افغاني قبایلو په اړه په تیره بیا د دیورند

افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد ازغور کامل بما ارسال بدارید.

کرښې له لاسه لیکه را وروسته ترلاسه کړي ، دغه فصل یوه خورا سیستماتیکه علمي څېړنه ده ، موږ کولای شودلته دسیمې دتاریخی ، سیاسي ،جغراقیایی ، روانی ، مذهبي ، فرهنگی او تعلیمی برخوپه اړه دپاملرني وړ علمي معلومات چې تراوسه یوه لیکوال هم په دومره جزیاتو سره په تیره بیا په فارسي ژبه کې نه وو لیکلي لوستلای اوترلاسه کولای شو ، ښایی ډیرکسان په تیره هغوی چې پښتونخوا اودهغې پښتانه یې نه وي لیدلي اویوازې له لرې د زړو څېړنو پرښیاد قضاوت وربانديې کوي اویا څه پرې لیکي له قبایلي جوړښت څخه د یوه ځانگړي یا په بله وینا دیوه وروسته پاتې ټولنیزجوړښت تعبیروکړي ، په داسې حال کې چې ددغې څېړنې پرښتې خبره داسې نه ده ، سیستانی صاحب دغه مساله دیوه تحول اویوه قانونمند اصل په توگه له اوسنی تمدن او علمي څېړنو سره په رابطه کې په نوي ډول سره څېړلي ده . دپښتونخوا دغه برخه تریوه پېړۍ زیاته له خپلې اصلي تنې (افغانستان) څخه دیولړتوطیو په پایله کې لرې وساتل شوه ، خو برعکس دټولنیزجوړښت اومتمدن خصلت له مخې یی تراوسه ډیرپرمختگ په برخه شوې دی ، اقتصادي وړتیا ، تمدنی ځانگړنې ، له نوي تمدن سره چال چلند یی ښیي چې نور نو پښتني قبا یلي جوړښت دلته په هراړخیزه توگه له نوی تمدن سره غوټه شوی دی ، اوداهغه ځانگړنه ده چې اوس یی موږ نه یوازې په پښتونخوا کې وینو بلکې دادهند دنیمې وچې دپښتون شعور په پوره متمدنه ځانگړنه اوښتې ده . نن سبا د هندوستان او پاکستان او په ټولیزه توگه د ټولې نیمې وچې دنوي ژوند او نوي تمدن اوعلمي انکشافاتوپه هره برخه کې دپښتون ، افغان او پټان نوم په هراړخیزه توگه دحساب وړ دی ، دسیستانی صاحب څېړنه پرهمدغه مسیرباندې زموږ لارښونه کوي اودغه عینی تاریخی اهمیت ته مو په داسې یوه تاریخی پړاو کې ځیرکوي چې نور نو باید دآسیا پردغه جغرافیایی جوړښت او ددغو خلکو پربرخلیک باندې دنوي علمي لرلید او وسایلو په مرسته نوي اودقیقه کتنه وشي ، سیستانی صاحب په دغه ترڅ کې هغه عوامل چې دغه ولسونه له پرمختگ ، آزادۍ او نړیوال تمدن څخه په شعوري او غیرشعوري توگه لرې ساتي په عالمانه درک اوعلمي قضاوت سره ددغه اوږده څېړکې په ترڅ کې څېړلي دي . ده د تیرو در یو لسیزو په اوږدو پرهغو ناوړو نیتونو او هغو ناوړو کړو باندې هم رڼا اچولې چې دیوې نړیوالې توطیی په ترڅ کې دنړیوالو زورځواکو له خوا دلته ددغو خلکو او قبایلو پرسیتماتیک جوړښت باندې له افغانی هغه سره یوځای ور تحمیل شول ، هغه چې نن خپله دخپلو تیروتنوله ناوړو اغیزو څخه ځان نه شي ژغورلي اودخپلې تاریخي تیروتنې په ټیل کې راښکیل دي.

په دغه فصل کې دپښتونخوا پرتاریخ او اقتصادي جوړښت برسیره ، ددغې سیمې دیوې پېړۍ په تاریخی لرلید، دانگریزجوړکړي پاکستان پرپلانو ، افراطیت ، دهغه پرجرړو اوهغو عواملو چې دلته یی دمذهبي افراطیت لپاره لاره پرانیسته پراخ او لومړي لاس خبرې راغلي دي . سیستاني صاحب له ملی او سیمه ییز ناسیونالیزم ، له عدم تشدد څخه رانیولې بیا دمذهبي افراطیت تر تسلط پورې له هغه بشري ضد ناورین څخه پرده پورته کړې چې نړیوالو ستروځواکونو ښیواوکینو پردغه سیمه او خلکو باندې دخپلوشومو اهدافو دتحقق په خاطر عملی کړ. هغه چې تراوسه یې یوازې انساني تلفات تردوومليونو بی گناه انسانانو پورې ورسیدل او لاهم ددغو خلکو په سرنوشت باندې دلوبو کولو لپاره تیاري نیسی او معلومه نه ده چې په نږدې راتلونکې کې به یوځل بیا دلته دغه قام له کوم ډول غیرانسانی ناورین سره همدغوپردیو په لمسواواشارو مخامخ کیږي .

دخونړۍ امریکا او نورو شریکانو له خوا دپښتنو د بدمرغ ژوند دغه تیاره تصویرلاهم دلته په خورا څرگنده اومستنده توگه لوستلای شئ چې لاهم دلته نړیوال زورځواکان ، د نشه توکونو ، ځان وژنې او جگړې په توپان کې هغه ته خوشبین دي ، خو سیستاني صاحب بیا دغه ظالم زورځواک ته ددغه اثر په وروستي برخه کې وایی :

« اکنون سوال اینست که حکومت اوباما باید چه بکند؟- ازلحاظ نظامی، ایالات متحده باید بمباران خود را متوقف کند، زیرا این بمبارد مانهای کور،خشم پشتونها را در مقابل قوای خارجی برمی انگیزاند. همین بمباردمانها برای القاعده ودیگر جهادیستان افراطی این فرصت رافراهم میکند که خواب شکست امریکا را در سر بپرورانند.- از لحاظ سیاسی ،سیاست ایالات متحده باید طوری مرتب شود که خواستهای پشتونها را انعکاس داده بتواند. معنای این سخن اینست که پشتونها را درمقابل پنجابی ها تقویت کند. پشتونهای مناطق فاتا عاشق آزادی خود اند وحاکمیت پنجابی ها رابرسرنوشت خود خوش ندارند.

پـــــــــــــای

په پای کې غواړم ددغه مهم تحقیق په اړه خپل نظر په څو ټکوکې را لنډ کړم او باید ووایم چې زما په نظر ددغه اثر نوښتنی اړخ له دی امله مهم دي چې :

لومړي ، دغه اثر په فارسی ژبه دی چې په فارسي ژبوهیوادو برسیره دهند دتعلیمی او علمي موسسو اوپوهنتونو لپاره هم په علمی او تعلیمی برخو ډیرمرسته کولای شي او هغو ځوانو لیکوالو ته چې دهند دنیمی وچې ، پښتونخوا او سرحد په اړه څېړني کوي ، دغه نوي تحقیق په نوي ارزونې سره دپاملرنې وړ لارښونه کولای شي .

افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد ازغور کامل بما ارسال بدارید.

دویم : دسیستاني صاحب په دغه اثرکي دوه وروستی فصلونه دنوي علمی میتود اوتیزس لیکني له مخي دیوه ابتکارڅرگندونه کوي ځکه چي داسي ابتکارددغي سیمي دتاریخ لیکني په ترڅ کي نه کورنیواو نه هم باندنیو لیکوالو ، مورخینواو ان سیاسي څیړنکو کړی اونه یي ورته پام شوی .

دریم : دغه اثر دافغانستان او افغانانو د واکمنیو ، تاریخ اوجغرافیي په اړه هغه مغرضی هڅي او توطیی چي له اوږدي مودي را په دیخوا دلته عملی شوي دیوه ناپیلی تاریخي تحقیق په ترڅ کي په ډاگه کوي .

څلورم : هرملت دخپل تاریخي شته والي او ویاړونو پراصولو د خپل ژوند دراتلونکي په لور گامونه پورته کوي . دپښتنو دتاریخ لیکني دښمنان شپه ورځ څه په افغانستان ، څه په ایران اوڅه هم په نورو هیوادوکي هڅه کوي چي ددغه قام څلور زرکلن پرله پسي تاریخی شته والی لکه دخپلو هغو په شان چي تر یوه زریزه یی سابقه وړاندي په یوه ماخذ کي هم نه ښکاري ، مسخ اوجعل کړي ، په داسي حال کي چي دنړی په لویدیز او ختیز کي داسي لرغوني متن نشته چي ددغه قام څیره ، ویاړونه ، ما سي او حماسي به هغو ی نه وي یادي کړي . دغه قام له اوږدي مودي پر دغي اوسنی جغرافیي باندي ژوند کړی، هیڅ یوه زورگیرځواک لکه چي مخکي مي هم وویل دوی نه له دغه ځایه شړلی او نه زور ورته رسیدلی دی ، دیوه تاریخی او علمي تراخه واقعیت په توگه باید دایوه خبره ومنو چي دافغانستان یوشمیر اوسیدونکي اوس هم په دغه هیواد کي په جعلی تاریخ سره ژوند کوي ، ددغو جعلي او بی وطنو یو شمیر چي نن سبا په جعلی هویتونو سره هلته او دلته لیکني کوي اوهڅه یي داده چي افغانان هم دځان په شان علمی او اکادیمیکو ټولنو ته په جعلي تاریخ او تورونوکي پټ ورمعرفي کړي ، دسیستانی صاحب دغه اثر دغو بی هویتو او په ملي ارزښتو نا باورو ته هم په علمي لحاظ یو غاښ ماتونکي ځواب دی. ده هڅه کړي چي ددغه اثرپه ترڅ کي دملي تفاهم او دتاریخ ملي ارزښت ته په کتني سره دافغانستان په اوسني جوړښت کي دملي یووالي دتفکر اهمیت او ضرورت دعصر په دغه خورا حساس پړاوکي دیوه رسالتمند مورخ او مفکر په توگه په ډاگه او تشریح کړي .

سیستاني صاحب ته د او ږده ژوند او لابریو په هیله خپله لیکنه پرهمدغه ځای پای ته رسوم اوگران لوستونکي ته ددغه اثر دلوستلو سپارښتنه کوم .

په درناوي

پروفیسور عبدالخالق رشید (پی اچ ډي)

نوي ډیلی – هند

د ۱۳۹۲ کال د سرطان ۱۳

افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد ازغور کامل بما ارسال بدارید.